مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر ش میره کی

۲۰۲۶/۱۰/۰۷

# آنوریسم څه شی دی؟

آنوریسم یو ډول غوټه یا پړسوب دی چې د رګونو (عروقولحیه) په دیوال کې جوړېږي. دا پړسوب اکثر د شریانونو (یعني هغو رګونو چې وینه له زړه نورو برخو ته وړي) په دیوال کې راځي.

کله چې د رګ دیوال ضعیف شي، نو د وینې فشار له امله غځېږي او غوټه پیدا کوي. که دغه غوټه وچیږي یا وچوي، نوسخت وینه بهیږي (خونریزي) رامنځته کېږي، چې کولای شي د فوري مړینې لامل شي.

د آنوریسم ډولونه

آنوریسم د موقعیت له مخې څو ډولونه لري:

1. دماغي آنوریسم (Cerebral or Brain Aneurysm)
- د دماغ په رګونو کې پیدا کېږي.
- که وچوي، شدید "Subacut او hemorrhage" رامنځته کوي.
- نښې: ناڅاپي شدید سردرد، کانګې ، لید ستونزې، تشنج.

2. ابدومینل آنوریسم (Abdominal Aortic Aneurysm - AAA)
- د لوی رګ (aorta) پړسوب دی چې له زړه څخه تر نس پورې غځېدلی دی.
- نښې: د نس منځنی برخه کې درد، نبضلرونکی غوټه، د ملا درد.

3. توراسیک آنوریسم (Thoracic Aortic Aneurysm)
- د سینې په برخه کې راځي.
- نښې: ساه تنګی، ټوخی، او د مرۍ درد.

د آنوریسم نښې (Symptoms):

اکثر وخت آنوریسم بې نښې وي، خو که غټ شي یا وچوي، نو ښایي لاندې نښې ښکاره شي:

- ناڅاپي او سخت درد (په سر، نس، یا ملا کې)
- سرګرځېدل یا بېهوشي
- د ساه بندېدل
- د سترګو لید خرابېدل
- د نبضلرونکي غوټې احساس

لاملونه یا عوامل:

- لوړ فشار (Hypertension)
- سګریټ څکول



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

- شکر (Diabetes)
- د ويني غوړ (Cholesterol)
- ارثي (جنتيکي) ستونزې
- د رګونو د ديوال زيانونه يا زخمونه

څېړني او پېژندنه:

- CT Scan / MRI: دقيق انځورونه وړاندې کوي.
- Angiography: د رګونو د درز يا پړسوب معلومولو لپاره.
- Ultrasound (په نس کې): د abdomnial aneurysm پېژندني لپاره.

درملنه:

1. څارنه (Monitoring):
   - که آنوريسم کوچنی وي، نو ډاکتر به يې يوازې څاري.
2. جراحي (Surgery):
   - د آنوريسم ترميم يا مصنوعي رګ ايښودل.
   - Endovascular repair – د رګ دننه څخه بندول.
3. د ژوند طرز سمول:
   - د فشار کنټرول، تمباکو پرېښودل، روغ خوراک.

پايله:

آنوريسم يوه پټه، خو خطرناکه ناروغي ده. که يې نښې احساس شي يا شريکه سابقه ولري، نو ژر تر ژره طبي معاينه اومشوره اړينه ده.





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ